# کائنات چا پیدا کړي؟
# زه چا پیدا کړی یم؟ او ولې؟



من خلق الكون؟ ومن خلقني؟ - بشتو

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

# کائنات چا پیدا کړي؟ زه چا پیدا کړی یم؟ او ولې؟

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

# ایا زه په سمه لار یم؟

اسمانونه او ځمکه او په دوی کې لوی مخلوقات چې احاطه کېدلی نه شي، چا پیدا کړي دي ؟

په اسمان او ځمکه کې دا دقیق او پراخ نظام چا جوړ کړی؟

انسان چا پیدا کړی او هغه ته د اورېدلو، لیدلو، عقل، پوهې لاسته راوړلو او په واقعیتونو د پوهېدلو وړتیا چا ورکړې ده؟

ستا د بدن په غړو کې دا باریک جوړښت چا رامنځته کړی او ته په دې ښایسته بڼې چا انځور کړی یې؟

د ژوندیو مخلوقاتو په بیلابېلو بڼو او ډولونو کې فکر وکړه چې دوی چا په داسې بڼو پېدا کړي چې هېڅ حدود نه لري.

دا لوی کاینات څنګه د کلونو په تېریدو د خپلو قوانینو سره منظم چلیږي او برقرار پاتې دي؟

هغه نظامونه چا رامینځته کړي چې دا عالم کنترولوي (ژوند او مرګ، د ژوندیو موجوداتو تناسل، شپه او ورځ، د موسمونو بدلون، او داسې نور)؟

آیا دې کائناتو خپل ځان په خپله پیدا کړی؟ یا له نشت څخه رامنځته شوي؟ یا دا په تصادفي توګه موندل شوي دي؟ الله جل جلاله فرمایي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ۝٣٥ أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ۝٣٦﴾ [الطور: 35-36]

"ایا دوی بې له څه شي پیدا کړی شوي دي، یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي دي؟ ایا دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بلکې دوی یقین نه کوي".[الطور: 35-36].

نو که موږ خپل ځانونه نه وي پېدا کړي او دا هم نامکنه ده چې موږ له هېڅ شي یا تصادف څخه رامنځته شوي یو، نو هغه حقیقت چې هېڅ شک پکې نشته دا دی چې: دا کاینات خامخا یو لوی او ځواکمن خالق لري، ځکه دا ناشونې

ده چې دې کائناتو دې ځان خپله پیدا کړی وي! یا دا چې له هېڅ (نشت) څخه رامنځته شوي وي! او یا په تصادفي ډول رامنځته شوي دي!

ولې یو څوک د داسې شیانو په شتون باور لري چې لیدلی یې نه شي؟ لکه: (درک، عقل، روح، احساسات او مینه) آیا ځکه چې هغه یې اغیزېویني؟ نو څنګه انسان د دې لویو کائناتو د پیدا کوونکي له شتون څخه انکار کوي، حال دا چې هغه یې د پېدایښت، صنعت او رحمت اغیزې ویني؟!

هېڅ هوښیار به دا ونه مني چې ورته وویل شي: دا کور په خپله جوړ شوی، پرته لدې چې یو څوک یې جوړ کړي! یا ورته وویل شي چې: دا کور هېڅ شي (نشت) رامنځته کړی! نو ځینې خلک څنګه په هغه چا باور کولی شي چې وایي: دا لوی کائنات پرته له خالق څخه پیدا شوي؟ یو عقلمند انسان څنګه منلی شي چې ورته وویل شي: د کائناتو دا دقیق نظم په تصادفي توګه سره رامینځته شوی دی؟

دا ټول موږ یوې پایلې ته رسوي، هغه دا چې دا کائنات یو لوی او ځواکمن پالونکی لري چې اداره کوي یې، او دا چې یوازې هغه د عبادت وړ دی، او دا چې هر هغه څه چې پرته له هغه یې عبادت کیږي باطل او د عبادت وړ نه دي.

# رب لوی خالق دی

پیدا کوونکی رب یو دی، هغه پادشاه، پالونکی او روزي ورکوونکی دی، هغه ذات دی چې ژوندي کول او مړه کول کوي، او هغه داسې ذات دی چې ځمکه یې پیدا کړې او تابع یې ګرځولې او د خپلو مخلوقاتو لپاره یې مناسبه جوړه کړې ده. او هغه ذات دی چې اسمانونه یې پیدا کړي او هغه لوی مخلوقات چې پکې دي، لمر، سپوږمۍ، شپه او ورځ یې په دقیقه توګه کنترول کړي چې د هغه د عظمت ثرګندونه کوي.

او همغه ذات دی چې هوا یې موږ ته مسخره کړې چې له هغې پرته ژوند نه شو درلودلای، هغه ذات چې پر موږ بارانونه وروي، سمندرونه او سیندونه یې زموږ تابع کړي، همغه ذات چې موږ ته یې هغه مهال روزي راکوله کله چې موږ د میندو په رحمونو کې کوچنیان وو او هېڅ ځواک مو نه درلود، همغه ذات چې زموږ په رګونو کې یې وینې ته له زیږون څخه تر مرګه پورې جریان ورکړی دی.

## دا رب )پالونکی(، خالق )پېدا کوونکی(، روزي ورکوونکی، یوازې الله پاک دی

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٥٤﴾ [الأعراف: 54]

" بې شکه ستاسو رب هغه الله دی چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا یې پر عرش استواء (د عرش د پاسه شو) وکړه، شپه په ورځې باندې پټوي چې هر یو په تلوار سره لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري (یې پیدا کړل) چې د هغه په امر غاړه اېښودونکي

دي. خبر اوسئ! پيدا کول او حکم چلول خاص هغه لره دي، الله برکت والا دی، د ټولو مخلوقاتو رب".[الأعراف٥٤].

الله هغه رب دی چې په کائناتو کې د هر څه پيدا کوونکی دی؛ هغه څه چې موږ يې وينو او څه چې نه يې وينو او له هغه پرته نور هر څه د هغه له مخلوقاتو څخه دي، هغه يوازې د عبادت وړ دی او له هغه پرته بايد د بل چا عبادت له هغه سره ونه شي. هغه لره په مالکيت، پيدايښت، د چارو سمبالولو او عبادت کې هېڅ شريک نه شته.

که د استدلال په خاطر دا فرض کړو چې د رب جل جلاله سره نور معبودان هم شته، نو کائنات به فاسد شي؛ ځکه دا نه کيږي چې دوه معبودان په يو وخت کې د کائناتو چارې اداره کړي، الله تعالی فرمايي:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ ...﴾ [الأنبياء: 22]

"که په دواړو (آسمان او ځمکه) کې له الله پرته نور معبودان وای نو دواړه به وران (ګډوډ) شوي وی".[الأنبياء: 22. ]

## د پيدا کوونکي رب صفتونه

پاک ښتن لره بې شمېره ښکلي نومونه او هغه لره ډېر لوی او عالي صفتونه دي چې د هغه د کمال څرګندونه کوي، د هغه له نومونو څخه : الخالق او "الله" دي چې معنا يې ده: هغه ذات چې يوازې له شريک پرته د عبادت مستحق دی. او: الحي (تل ژوندی)، القيوم (تلپاتې)، الرحيم(ډېر رحم کوونکی)، الرازق(رزق ورکوونکی)، الکريم (سخي).

الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا

يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلْعَلِيُّ ٱلْعَظِيمُ﴿٢٥٥﴾ [البقرة: 255]

" الله هماغه دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي، دا به څوک وي چې د هغه له اجازې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهيږي چې د دوی مخې یا یې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هېڅ شی نه شي راګیرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسی یې له اسمانو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو (ځمکې او اسمان) ساتنه یې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی".[سورة البقرة:255].

او الله - تعالی - فرمايلي:

﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ﴿٤﴾﴾

[الإخلاص: 1-4]

" (ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چی الله یو دی. هم دا الله بې نیاز (بې حاجته) دی. نه یې (څوک) زېږولی دی او نه دی (له چا) زېږول شوی دی. او د ده هېڅوک سیال (او) برابر نشته".[الإخلاص ١-٤].

## د عبادت څښتن د کمال له صفاتو څخه برخمن دی.

د هغه له صفتونو څخه یو دا دی چې همغه د عبادت وړ دی او عبادت یې کیږي او له هغه پرته نور مکلف مخلوق دي چې امر ورته کیږي او تابع دي.

د هغه له صفتونو څخه دا دي چې هغه تل ژوندی او د ټول عالم چارسمبالی دی، په کائناتو کې چې هر ژوندی دی، نو هغه ذات ژوند ورکړی او له نشت څخه یې شته کړی دی او هغه په خپل شتون سره د چارو سمبالوونکی، هغوی ته رزق ورکوونکی او هغوی لره کافي دی. نو رب ژوندی دی نه مړ کیږي او فناء کېدل یې ناشوني دي، چارسمبالی دی، نه ویده کیږي، نه پرې خوب راځي او نه پرکاله کیږي.

د هغه له صفتونو څخه یو دا دی چې هغه پوه ذات دی، له هغه څخه په ځمکه او آسمان کې هېڅ شی پټ نه دی.

د هغه له صفتونو څخه دا دي چې هغه اوریدونکی او لیدونکی دی، هر څه اوري او هر څه ویني، د نفسونو په وسوسو او هغه څه پوهیږي چې په سینو کې پټ دي، له هغه نه په ځمکه او اسمانونو کې هېڅ شی پټ ندی.

د هغه له صفتونو څخه یو دا دی چې هغه قادر ذات دی، هېڅ شی یې نه شي عاجزولای او هېڅوک د هغه د ارادې مخنیوی نه شي کولای، څه یې چې خوښه وي هغه کوي، او څه یې چې خوښه وي هغه منع کوي، مخته کول او وروسته کول کوي او هغه د لوی حکمت خاوند دی.

او د هغه له صفتونو څخه دا دی چې هغه پیدا کوونکی، رزق ورکوونکی او چارسمبالی دی؛ هغه ذات چې مخلوقات یې پیدا کړي او د هغوی چارې یې سمبال کړي دي، ټولو مخلوقات یې په قبضه کې دي او د هغه د امر لاندې دي.

د هغه د صفتونو له جملې څخه دا هم دی چې هغه د محتاجانو دعا قبلوي، مصیبت ځپلو فریاد اوري، تکلیف لرې کوي، او هر مخلوق چې کله په سختۍ او مصیبت کې راګیر شی، د سختې اړتیا له مخې هغه ته رجوع کوي.

له الله جل جلاله پرته د بل چا عبادت نه کیږي، ځکه یوازې هغه پوره او د عبادت مستحق دی، پرته له بل هر چا څخه، او هر هغه څه چې له هغه پرته یې عبادت کېږي، په ناروا

سره یې عبادت کېږي، ځکه هغه نیمګړی او د مرګ او فنا کېدو وړ دی.

الله تعالی موږ ته عقلونه راکړي چې د هغه له عظمت څخه یو څه درک کولی شي او په موږ کې یې یو طبیعي فطرت ایښی چې نیکي خوښوي او له بدۍ څخه کرکه لري، او کله چې الله رب العالمین ته رجوع کوي، د ډاډ احساس کوي، دا فطرت د هغه په کمال دلالت کوي او پر دې چې ناشوني ده هغه پاک ذات په نیمګړتیا سره یاد شي.

د عقلمند لپاره مناسبه نه ده چې له کامل ذات پرته د بل چا عبادت وکړي، نو څنګه کولای شي د خپل ځان په څېر د نیمګړي او یا له ځان نه د ټیټ مخلوق عبادت وکړي؟

انسان، بت، ونه او یا حیوان هېڅکله معبود کېدلی نه شي!

څښتن تعالی د اسمانونو د پاسه، په خپل عرش باندې دی، له مخلوقاتو څخه یې جلا دی، د هغه په ذات کې د هغه له مخلوقاتو څخه هېڅ شی نشته او نه د هغه په مخلوقاتو کې د هغه له ذات څخه څه شی شتون لري، هغه په خپلو مخلوقاتو کې نه منحل کیږي او نه پکې جسم ګرځي.

د څښتن تعالی په څېر هېڅ شی نه شته او هغه اورېدونکی لیدونکی دی، هېڅوک د هغه برابر نه دی، او هغه له خپل مخلوق څخه غني دی، نه ویده کیږي او نه خوراک کوي، هغه ډېر لوی دی؛ شونې نه ده چې هغه دې مېرمن یا ماشوم ولري. خالق د عظمت صفات لري؛ هېڅکله نه محتاجیږي او نه په نیمګړتیا سره یادیږي.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٧٤﴾ [الحج: 73-74]

”ای خلکو! یو مثال راوړل شوی نو غوږ ورته کیږدی، تاسو چې الله نه پرته څه رابلئ، که ټول ورته را یو ځای هم شي هېڅکله به یو مچ هم پیدا نکړی شي او (دا لا څه) که یو مچ څه شی ترې وتښتوي، هغه هم نه شي ترې خلاصولی، هم (مرسته) غوښتونکی کمزوری دی او هم غوښتل شوېدوی لکه چې ښایي هغه شان د الله قدر ونه پېژندو، الله یقيناً زورور او برلاسی دی“.[الحج: 73-74].

## دې ستر خالق ولې موږ پیدا کړي یو؟ او زموږ څخه څه غواړي؟

ایا دا عقل مني چې الله دا ټول مخلوقات بې هدفه پیدا کړي، ایا هغه يې بې مقصده پیدا کړي دي، په داسې حال کې چې هغه په هر څه پوه او حکیم دی؟

ایا دا عقل مني چې هغه ذات چې موږ يې په دومره دقت او مهارت سره پیدا کړي یو او د ځمکې او اسمانونو هر څه يې زموږ تابع کړي، چې موږ به يې له کوم هدف پرته پیدا کړي یو، او یا به مو د خورا مهمو پوښتنو له ځوابونو پرته پرېږدي چې زموږ فکر يې مشغول کړی دی، لکه: ولې موږ دلته یو؟ او له مرګ وروسته څه دي؟ او زموږ د پیدایښت موخه څه ده؟

او ایا عقل دا مني چې ظالم ته دې سزا او نیک انسان ته دې اجر نه وي؟

الله پاک فرمایلي دي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ١١٥﴾ [المؤمنون: 115]

”ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بې شکه موږ تاسو عبث پیدا کړي یاست او دا چې بې شکه تاسو به موږ ته بېرته نه راګرځئ“.[المؤمنون: 115].

بلکي الله جل جلاله پیغمبران رالیږلي تر څو موږ د خپل شتون په مقصد پوه شو او موږ ته لارښوونه وکړي چي څنګه د هغه عبادت وکړو او هغه ته نږدې شو! او له موږ څخه غواړي او څنګه د هغه رضایت تر لاسه کړو، او موږ ته یې له مرګ وروسته ژموږ د برخلیک په اړه خبر راکړی دي؟

الله جل جلاله د دې لپاره پیغمبران رالیږلي تر څو موږ ته خبر راکړي چې یوازې هغه د عبادت وړ دی او تر څو په دې پوه شو چې څنګه یې عبادت وکړو او موږ ته د هغه د اوامرو او منهیاتو په اړه خبر راکړي او د دې لپاره چې موږ ته نیک ارزښتونه را زده کړي چې که موږ یې مراعت کړو، پاک او له نیکیو او برکتونو ډک ژوند به ولرو.

او الله جل جلاله ډېر پیغمبران رالیږلي دي لکه: (نوح، ابراهیم، موسی، او عیسی) او په نښانو او معجزو یې د هغوی ملاتړ کړی چې د هغوی په رېښتینولۍ دلالت وکړي او پدې چې دوی د هغه پاک ذات له لورې را استول شوي او وروستی یې محمد صلی الله علیه وسلم دی.

او رسولانو موږ ته په واضح ډول خبر راکړی چې دا ژوند یو امتحان دی او دا چې رېښتینی ژوند به له مرګ وروسته وي.

او دا چې د هغو مؤمنانو لپاره جنت دی چې یوازې د الله جل جلاله عبادت یې کړی وي چې شریک نه لري او په ټولو رسولانو یې ایمان راوړی وي او پدې چې هلته یو اور دی چې الله د هغو کافرانو لپاره چمتو کړی چې د الله سره د نورو معبودانو عبادت کوي او یا یې د الله له کوم رسول څخه انکار کړی وي او پرې کافر شوی وي.

الله تعالی فرمايلي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٣٥ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٦﴾ [الأعراف: 35-36]

"اې د آدم اولادې! كه چېرې تاسو ته له تاسو څخه داسې رسولان درشي چې زما آيتونه درته بيانوي، نو بيا چې څوك تقوی خپله او (عملونه) سم كړي، نه به څه وېره ورباندې وي او نه به دوی خپه كيږي. او هغوی چې زموږ آيتونه يې دروغ وبلل او تكبر يې ترې وكړ، نو هغوی دوزخيان دي، تل ترتله پكې اوسېدونكي".[الأعراف35-36].

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ
تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ
بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٢ وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ
مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ٢٣ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ
لِلۡكَٰفِرِينَ ٢٤ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا
ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗاۖ
وَلَهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥﴾ [البقرة: 21-25]

" اى خلكو! د خپل رب عبادت وكړئ، هغه (رب) چې تاسې او له تاسې وړاندې خلك يې پيدا كړي، كېداى شي چې تاسې ځانونه وژغورئ (د الله تعالى له عذاب څخه). هغه (رب) چې ستاسې لپاره يې زمكه فرش (هواره) كرځولې ده او هسک (آسمان) يې چت او د آسمان له لوري يې اوبه نازل كړې دي، نو راويستي يې دي په دې اوبو سره هر ډول مېوې ستاسې لپاره روزي (رزق)، نو له الله سره شريكان مه نيسئ، په داسې حال كې چې تاسې پوهېږئ (چې الله شريک نه لري). او كه چېرې تاسې د هغه څه

(قرآن) په اړه په شک کې یاست، چې مونږ پر خپل بنده باندې نازل کړی دی نو تاسې د دې (سورت) په څېر یو سورت راوړئ او له الله تعالی پرته خپل ټول ګواهان (مشران) راوبلئ، که چېرې تاسې ریښتېني یاست. پس که چېرې مو دا کار ونه کړ او هېڅکله یې (هم) نه شئ کولای، نو پس وساتئ (ځانونه) له هغه اور څخه چې خس (خشاک) د هغې انسانان او تیږې (ګټې) دي، چې تیار کړی شوی دی (دا اور) د کافرانو لپاره. او زیری ورکړه (ای محمده) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی (په ټولو مؤمن به شیانو) او ښه (عملونه) یې کړي دي، چې بېشکه د دوی لپاره جنتونه دي چې د هغو (تر ماڼیو او ونو) لاندې ویالې بهېږي، هر کله چې له دې (جنتي مېوو) څخه دوی (جنتیانو) ته د رزق (خوړلو) لپاره (څه) ورکړل شي، نو دا (جنتیان) به وایي، دا هغه شان مېوه ده چې مونږ ته پخوا هم راکړل شوې وه او رابه وړلی شي دوی ته مېوه هم رنګه (او په خوند کې سره بېله) او د دوی لپاره به په دغو (جنتونو) کې پاکې مېرمنې وي او دوی به په دغو (جنتونو) کې همېشه وي".[البقرة: 21-25].

## ولې ډېر شمېر رسولان؟

الله جل جلاله امتونو ته خپل پیغمبران رالېږلي دي، هېڅ داسې یو امت نشته مګر دا چې الله ورته پیغمبر لېږلی تر څو یې د خپل رب عبادت ته راوبلي او د هغه له اوامرو او منهیاتو څخه یې خبر کړي، او د ټولو د بلنې موخه د یو الله عبادت و، او هر کله به چې یو امت هغه څه پرېښودل چې رسول یې ورته راوړي وو؛ لکه د الله په یو ګڼلو هغوی ته امر کول او یا به یې د هغې د بدنامولو هڅه وکړه نو الله جل جلاله به بل پیغمبر راولېږه تر څو یې تګلاره بېرته راسمه کړي، او خلک خپل سالم فطرت ته راوګرځوي چې هغه د الله تعالی یووالی او د هغه منل دي.

تر دې چې الله جل جلاله د محمد صلى الله عليه وسلم په رالېږلو سره د رسولانو لړۍ پای ته ورسوله، هغه پېغمبر چې بشپړ دین او د ټول بشریت لپاره یې تر قیامته تلپاتې شریعت راوړی، هغه شریعت چې په خپله بشپړ دی او د مخکنیو شریعتونو نسخ کوونکی دی، او متعال رب یې د بقا او د قیامت تر ورځې پورې د تلپاتې کېدو تضمین کړی دی.

## یو څوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نه شي تر څو یې په ټولو پیغمبرانو ایمان نه وي راوړی.

الله هغه ذات دی چې رسولان یې رالیږلي او ټولو مخلوقاتو ته یې امر کړی چې د دوی پیروي وکړي، چا چې له دوی څخه د یو له پیغمبرۍ هم انکار وکړ نو په حقیقت کې یې له ټولو انکار کړی دی، له دې به لویه ګناه نه وي چې یو څوک د الله تعالی له وحیې څخه انکار وکړي، نو جنت ته د ننوتلو لپاره په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړل ضروري دي.

په دې زمانه کې په هر چا فرض دي چې پر الله او د الله په ټولو پیغمبرانو ایمان ولري او د آخرت په ورځ ایمان ولري او دا کار یوازې پر وروستي پیغمبر محمد صلى الله علیه وسلم په ایمان راوړلو او پیروۍ کولو سره کېږي، ځکه دی هغه پیغمبر دی چې الله جل جلاله یې په تلپاتې معجزې قرآن کریم سره ملاتړ کړی، هغه (کتاب) چې الله یې ساتنه کوي تر څو چې ځمکه او څوک چې پرې دي هغه ته په میراث پاتې شي.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي چې څوک چې د هغه پر کوم پیغمبر له ایمان راوړلو څخه انکار وکړي، نو هغه په الله کفر کړی او د هغه وحیې یې دروغ ګڼلې ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٥١﴾ [النساء: 150-151]

”بې شکه هغوی چې له الله او رسولانو یې منکریږي او غواړي چې د الله او د رسولانو ترمنځ یې بېلتون وکړي (داسې چې) وایي په ځینو ایمان راوړو او ځینې نه منو او غواړي چې د دې (کفر او اسلام) ترمنځ بله لار ونیسي. دا خلک نو پاخه کافران دي او دغسې کافرانو ته مو سپکوونکی عذاب تیار کړی.[النساء“. 150-151].

لدې امله موږ مسلمانان په الله او د آخرت په ورځ ایمان لرو - لکه څنګه چې الله امر کړی - او موږ په ټولو پیغمبرانو او پخوانیو کتابونو ایمان لرو، الله تعالی فرمایلي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

”پیغمبر صلی الله علیه وسلم (پر هغه هدایت) ایمان راوړی دي چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شوی دی او څوك چې د دې پیغمبر منونکي دي، هغوی هم دا هدایت د زړه په مینه منلی دی، دوی ټولو الله، د هغه پرېښتې، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبران (علیهم السلام) منلي دي او د هغو وینا دا ده چې: موږ د الله د پیغمبرانو ترمنځ توپیر نه کوو، موږ حکم واورېده او اطاعت مو ومانه ای الله! موږ ستا څخه د ګناه بخښنې غوښتونکي یو او همدا ستا لوري ته زموږ درتګ دی“. [البقرة ٢٨٥].

## قرآن کريم څه شی دی؟

قرآن کريم د الله تعالی کلام او د هغه وحي ده چې په اخري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی او تر ټولو ستره معجزه ده چې د هغه د نبوت په ریښتینولی دلالت کوي. او د قرآن کريم حکمونه حق او معلومات یې ریښتیني دي.او الله تعالی یې منکران وننګول چې د دې قرآن په څېر دې حتی یو سورت هم ورته پیدا کړي، خو دوی پدې ونه توانېدل؛ د دې د محتویاتو د عظمت او هر اړخیز والي له امله چې په دنیوي ژوند او آخرت کې هر هغه څه ته شامل دی چې د انسان پورې اړه لري ، او دا د ایمان ټولو حقایقو ته شامل دی چې ایمان پرې واجب دی.په دې کې هغه احکام او ممانعتونه هم شامل دي چې انسان یې باید د خپل ځان او خپل رب، خپل ځان او خپل نفس او خپل ځان او ټولو مخلوقاتو تر منځ مراعت کړي، او دا ټول په لوړ فصاحت او بلاغت سره راغلي دي.پدې (قرآن) کې ډېر عقلي شواهد او ساینسي حقیقتونه راغلي او دا په ډاګه کوي چې دا کتاب د انسانانو له خوا نه دی جوړ شوی، بلکې دا د بشریت د سپېڅلي پالونکي کلام دی.

## اسلام څه شی دی؟

اسلام: الله تعالی ته په یووالي سره غاړه ایښودل، د هغه منل او ورته تسلیمېدل، په خوښی او منلو سره د هغه د قانون پیروي او په هر هغه څه کفر دی چې له الله پرته یې عبادت کیږي.

او الله تعالی رسولان له یو پیغام سره رالیږلي چې هغه: د یو الله عبادت ته بلنه ده چې شریک نه لري، او په هر هغه څه کافرېدل دي چې له الله جل جلاله پرته یې عبادت کیږي.

اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی، د دوی بلنه یو شان او شریعتونه یې مختلف دي، نن ورځ یوازې مسلمانان دي چې د صحیح دین پیروي کوي، هغه دین چې د ټولو انبیاوو لخوا راوړل شوی، او په دې وخت کې د اسلام پیغام حق دی، او

دا د خالق لخوا انسانیت ته وروستی پیغام دی.نو هغه رب چې ابراهیم، موسی او عیسی علیه السلام یې رالیږلی، همغه رب وروستی رسول محمد صلی الله علیه وسلم هم رالیږلی دی، او اسلامي شریعت ټولو مخکنیو شریعتونو لره منسوخوونکی راغلی.

ټول هغه دینونه چې خلک پرې نن سبا عبادت کوي - له اسلام پرته - د انسانانو لخوا جوړ شوي دینونه دي، او یا هغه دینونه دي چې په سر کې الهي وو خو انسانانو پکې لاسوهنه وکړه نو د خرافاتو ډېرۍ، میراثي افسانو او بشري اجتهادونو سره ګډ شول.

خو د مسلمانانو دین یو څرګند دین دی چې نه بدلیږي، لکه څنګه چې د دوی عبادتونه سره یو دي چې د الله عبادت پرې کوي، ټول پنځه وخته لمونځونه کوي، د خپلو مالونو زکات ورکوي او د رمضان د میاشتې روژه نیسي. او د دوی قانون ته چې قرآن کریم دی پام وکړئ، په ټولو هیوادونو کې همدا یو کتاب دی. الله تعالی فرمایلي:

﴿... ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٣﴾

[المائدة: 3]

”نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دین په توګه درته غوره کړی دی، نو که څوك په سخته لوږه کې (حرام خوراك ته) اړ شو خو چې د ګناه تکل یې نه وي نو بې شکه بیا الله مهربان بخښونکی دی. “ [سورة المائدة:3].

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

﴿قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ٨٤ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل عمران: 84-85]

"وایه موږ خو په الله ایمان راوړی او په هغه چې پرموږ نازل شوي او پر ابراهیم، اسماعیل، اسحاق، یعقوب او پر اولاده یې نازل شوي او هغه چې موسی، عیسی او نورو نبیانو ته یې د خپل رب له خوا ورکړل شوي د دوی ترمنځ یوه کې هم فرق نه کوو او موږ همده ته غاړه اېښودونکي یو. او هر څوک چې له اسلامه پرته بل دین لټوي نو هېڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانیانو وي. " [آل عمران: 84-85].

نو د اسلام دین د ژوند لپاره یوه جامعه تګلاره ده، چې د عقل او فطرت سره سمون لري، او د عامو خلکو له خوا منل شوې ده، د ستر خالق له خوا د خپلو مخلوقاتو لپاره جوړ شوی قانون او په دنیا او آخرت کې د ټولو خلکو لپاره د خیر او خوښۍ دین دی. نه یو نسل ته پر بل برتري ورکوي او نه یو رنګ ته پر بل رنګ، ټول خلک پکې سره برابر دي. په اسلام کې هېڅوک پر بل چا برتري نه لري مګر د هغه د نیکو عملونو په اندازه.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧﴾ [النحل: 97]

"چا چې نېک عمل وکړ، که نارینه وي که ښځینه خو چې مومن وي نو حتماً به ښه ژوند ورباندې تېر کړو او (آخرت کې

به) د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو. " [النحل:97]

## اسلام د نېکمرغۍ لار ده

اسلام د ټولو پيغمبرانو دين او د ټولو خلکو لپاره د الله تعالی دين دی او د عربو پورې ځانګړی دين ندی.

اسلام په دې دنيا کې د ريښتينې خوښۍ او په آخرت کې د ابدي نعمتونو لاره ده.

اسلام يوازينی دين دی چې د روح او بدن اړتياوې پوره کوي او د انسانانو ټولې ستونزې حلوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿قَالَ ٱهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًۢا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ١٢٣ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَعْمَىٰ ١٢٤﴾ [طه: 123-124]

"او (الله) وفرمايل: دواړه (ډلې، شيطان او انسان) ټول ترې کوز شئ، تاسې به يو د بل دښمنان ياست، نو چې زما له خوا څه لارښوونه درشي نو چا چې زما د لارښوونې متابعت وکړ، هغه به نه بې لارې او نه بدبخته شي. او څوک چې زما له ذکره مخ واړوي، هغه لپاره تنګ ژوند دی او د قيامت په ورځ به يې ړوند راپاڅوو. " [طه: 123-124].

## اسلام ته په داخلېدو څه ګټه کوم؟

اسلام ته داخلېدل سترې ګټې لري، چې ځينې يې دا دي:

- په دنيا کې بريا او عزت، څکه چې انسان د الله بنده وي، که نه نو د خواهشاتو، شيطان او شهوتونو بنده به و.

- په آخرت کې بريا؛ چې الله تعالی ورته ښښنه وکړي، ترې راضي شي، جنت ته يې داخل کړي او ابدي خوښۍ او تلپاتې نعمتونه وګټي او د دوزخ له عذابه وژغورل شي.

- مؤمن به د قيامت په ورځ له انبياوو، رښتينو، شهيدانو او صالحانو سره وي، دا څومره ښه ملګرتيا ده، او څوک چې ايمان نه راوړي هغه به له سرکښانو، بدانو، مجرمانو او ظالمانو سره وي.

- هغه کسان چې الله تعالی يې جنت ته داخل کړي هغه به له مرګ، ناروغۍ، درد، بوډاتوب او غم پرته په ابدي نعمتونو کې ژوند وکړي او دوی چې هر څه غواړي غوښتنې به يې پوره کړي او هغه څوک چې دوزخ ته ننوځي هغه به په ابدي، نه ختميدونکي عذاب کې وي.

- په جنت کې داسې نعمتونه شته چې نه د چا سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د چا فکر کې ګرځېدلي. د دې خبرې ثبوت د الله تعالی دا قول دی:

﴿مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٩٧﴾ [النحل: 97]

چا چې نېک عمل وکړ، که نارينه وي که ښځينه خو چې مومن وي نو حتماً به ښه ژوند ورباندې تېر کړو او (آخرت کې به) د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو.[النحل ٩٧].

او الله تعالی فرمايلي:

﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ١٧﴾ [السجدة: 17]

" نو چا ته نه ده معلومه چې هغوی ته د سترګو يخېدو کوم شيان پټ ساتل شوي، د هغو کړنو د بدلې په توګه چې دوی به کول. " [سورة السجدة:17]

# که اسلام را نه وړم نو څه به له لاسه ورکړم؟

انسان به تر ټولو ستر علم او پوهه له لاسه ورکړي، کوم چې د الله تعالی پېژندل او د الله تعالی په اړه پوهه ده، او هغه به په الله تعالی باور له لاسه ورکړي، هغه څه چې انسان ته په دنیا کې امنیت او آرامي او په آخرت کې ابدي نعمت ور په برخه کوي.

انسان به تر ټولو لوی کتاب ته لاسرسی له لاسه ورکړي چې الله تعالی خلکو ته نازل کړی او په دې لوی کتاب ایمان به له لاسه ورکړي.

هغه به په سترو پیغمبرانو ایمان له لاسه ورکړي، همدا رنګه به د قیامت په ورځ په جنت کې د دوی ملګرتیا له لاسه ورکړي، او د دوزخ په اور کې به د شیطانانو، مجرمانو او ظالمانو سره مل وي، چې ډېر بد کور او بد ګاونډ دی.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... قُلۡ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١٥ لَهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ ظُلَلٞ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٞۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ١٦﴾ [الزمر: 15-16]

”ووایه بېشکه (حقیقي) زیانمن هغه خلك دي چې د قیامت په ورځ یې ځانونه او خپلې کورنۍ په تاوان کې اچولې دي، خبر اوسئ چې همدغه ښکاره تاوان دی. د هغوی لپاره به لاندې باندې د اور (ټوټې) وریځې (لکه چترۍ راتاو) وي، دا هغه عذاب دی چې الله خپل بندګان پرې ډاروي، اې زما بندګانو له ما نه ووېرېږئ. “ [الزمر: 15-16].

## ځوک چې غواړي په آخرت کې نجات ومومي باید اسلام قبول کړي او د محمد صلی الله علیه وسلم پیروي وکړي.

یو له هغو حقیقتونو څخه چې پیغمبرانو او رسولانو علیهم السلام پرې اتفاق کړی دا دی چې یوازې هغه مسلمانان به آخرت کې نجات ومومي چې په الله تعالی ایمان لري، هېڅوک ورسره نه شریکوي او په ټولو پیغمبرانو او رسولانو ایمان لري. نو د پیغمبرانو ټول پیروان چې ایمان یې پرې راوړی او هغوی یې ریښتیني ګڼلي جنت ته به داخل شي او له اور څخه به وژغورل شي.

نو هغوی چې د پیغمبر موسی علیه السلام په زمانه کې وو او په هغه یې ایمان راوړی او د هغه په لارښوونو یې عمل کړی، نو دوی مسلمانان او نېک مؤمنان دي، مګر وروسته له دې چې الله تعالی عیسی علیه السلام راولېږه نو د موسی علیه السلام په پیروانو واجب شو چې په عیسی علیه السلام ایمان راوړي او پیروي یې وکړي.نو چا چې په عیسی (علیه السلام) ایمان راوړ هغوی نېک صالحه مسلمانان دي، او چا چې په عیسی (علیه السلام) له ایمان راوړلو انکار وکړ او ویې ویل چې زه به د موسی (علیه السلام) په دین پاتې شم نو دا مؤمن نه دی؛ ځکه چې ده پر داسې یو نبي له ایمان راوړلو انکار وکړ چې الله تعالی رالیږلی دی.بیا وروسته له دې چې الله پاک وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم راولېږه، نو پر ټولو واجب دي چې ایمان پرې راوړي، ځکه کوم رب چې موسی او عیسی علیهما السلام رالیږلي همغه رب دی چې وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم یې رالیږلی، نو چا چې د محمد صلی الله علیه وسلم له پیغمبرۍ انکار وکړ او ویې ویل چې زه به د موسی او یا عیسی علیهما السلام پیرو پاتې شم نو دا هم مؤمن نه دی.

او دا د یو چا لپاره بسنه نه کوي چې ووایي د مسلمانانو درناوی کوي او نه په آخرت کې د نجات لپاره بسنه کوي چې

خیرات ورکړي او د غریبانو سره مرسته وکړي، بلکې هغه باید په الله، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان ولري، چې الله تعالی ترې دا قبول کړي! په الله تعالی له شرک کولو، کفر ، د الله تعالی له خوا د نازل شوې وحې څخه له انکار کولو لویه ګناه نشته او نه لدې چې د وروستي پیغمبر له نبوت څخه انکار وشي.

نو یهود، نصاری او نور هغه کسان چې د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت په اړه یې اوریدلي او پرې له ایمان راوړلو انکار وکړی او د اسلام په دین کې له ننوتلو انکار وکړي نو دوی به د جهنم په اور کې د تل لپاره پاتې شي او همدا د الله پریکړه ده نه د کوم بشر پریکړه، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ۝٦﴾ [البينة: 6]

”بېشکه هغه کسان له اهل کتابو او مشرکانو څخه چې کفر یې کړی دی تل به د دوزخ په اور کې وي همدوی تر ټولو بد خلک دي. “ [البينة:6].

له هغه وخته چې بشریت ته د الله تعالی وروستی پیغام نازل شوی، هر انسان چې د اسلام په اړه اوري او د وروستي پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم له پیغمبرۍ خبر شي، باید پرې ایمان راوړي، د هغه د شریعت پیروي وکړي او په اوامرو او نواهیو کې د هغه اطاعت وکړي، نو څوک چې د دې وروستۍ پیغمبرۍ څخه خبر شي او رد یې کړي، الله تعالی به له هغه څخه هېڅ شی ونه مني او په آخرت کې به عذاب ورکړي.

د دې خبرې دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ۝٨٥﴾ [آل عمران: 85]

"او هر څوک چې له اسلام پرته بل دین لټوي نو هېڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانیانو وي. " [آل عمران ۸۵].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ٦٤﴾ [آل عمران: 64]

"ورته وایه ای اهل کتابو هغه خه ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ یو برابر دی، دا چې د الله نه پرته بل څه به نه لمانځو، نه به څه شی ورسره شریکوو او نه به څوك له الله پرته د خدایانو په توګه نیسو، نو که وګرځېدل بیا ورته ووایئ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان یو. " [آل عمران: 64].

## زه د مسلمانېدلو لپاره څه ته اړتیا لرم؟

اسلام کې د ننوتلو لپاره په دې شپږو ارکانو ایمان راوړل واجب دي:

په الله جل جلاله ایمان او دا چې هغه خالق، روزي ورکوونکی، چار سمبالی او مالک دی، د هغه په شان هېڅ شی نشته، هغه نه مېرمن لري او نه زوی، او هغه یوازې د عبادت مستحق دی او دا چې له هغه سره د بل چا عبادت ونه شي، او دا عقیده وساتل شي چې له هغه پرته چې د هر څه عبادت کیږي هغه باطل دی.

په ملائکو ایمان او دا چې دوی د الله تعالی بندګان دي، له نور څخه یې پیدا کړي او دنده یې ورسپارلې چې پر پیغمبرانو علیهم السلام یې وحی نازلوي.

په ټولو هغو کتابونو ایمان چې الله تعالی په خپلو پیغمبرانو علیهم السلام نازل کړي دي (لکه: تورات او انجیل – مخکې له دې چې تحریف شي) او وروستی کتاب قرآن کریم.

په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان راوړل لکه: نوح، ابراهیم، موسی، عیسی علیهم السلام او د دوی وروستی محمد صلی الله علیه وسلم، او دا چې دوی ټول له انسانانو څخه وو، د وحی په واسطه یې د دوی ملاتړ کړی او هغه نښې او معجزې یې ورکړې چې د دوی د رېښتینولۍ څرګندونه کوي.

د آخرت په ورځ ایمان چې کله به الله جل جلاله مخکني او وروستني راژوندي کوي او الله تعالی به د خپل مخلوق په مینځ کې قضاوت کوي، مومنان به جنت او کافران به دوزخ ته داخل کړي.

په تقدیر باور او دا چې الله په هر څه پوهیږي، څه چې پخوا وو او څه به چې په راتلونکي کې وي، او دا چې الله پوه دی او دا هر څه یې لیکلي دي، او د دې اراده یې کړې ده او هر څه یې پیدا کړي دي.

## په پرېکړه کې ځنډ مه کوه!

دنیا د ابدیت ځای نه دی ...

ژر دی چې ټول ښایست به یې له منځه ولاړ شي او ټول شهوتونه به ختم شي.

او هغه ورځ به راشي چې له انسان سره پکې د هغه د کړنو حساب وشي، چې هغه د قیامت ورځ ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ٤٩﴾ [الكهف: 49]

”او (د عمل) کتاب به کېښودل شي نو ته به مجرمان ګورې چې له هغه څه نه وېرېدونکي دي، کوم چې په هغه (کتاب) کې دي او وايي به هاى زموږ بده بخته دا څنګه ليکنه ده چې (زموږ) وړه او غټه يې بې له شمېرلو نه ده پرېښې، او څه يې چې کړي وو حاضر به يې ومومي او ستا رب په هېچا ظلم نه کوي. “ [الکهف:49].

او يقينا چې الله تعالى په ډاګه کړې ده چې څوک اسلام نه راوړي نو هغه به د تل لپاره د دوزخ په اور کې وي.

نو دا لږ تاوان نه، بلکې لوى تاوان دى، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴿٨٥﴾﴾ [آل عمران: 85]

”او هر څوک چې له اسلام پرته بل دين لټوي نو هېڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانيانو وي. “ [آل عمران: 85].

نو اسلام هغه دين دى چې له هغه پرته الله نور دينونه نه مني.

نو الله موږ پيدا کړي يو او هغه ته ورګرځو او دا دنيا زموږ لپاره يوه ازموينه ده.

انسان بايد ډاډه اوسي چې: دا ژوند د خوب په څېر لنډ دى ... او هېڅوک نه پوهيږي چې کله به مري!

نو د قيامت په ورځ به خپل خالق ته څه ځواب وايي چې پوښتنه ورڅخه وکړي چې: ولې يې د حق پيروي نه ده کړې؟ ولې يې د وروستي پيغمبر پيروي نه ده کړې؟

نو ستا پروردګار ته به د قيامت په ورځ څه ځواب وايي، حال دا چې هغه په اسلام کې د کفر له عواقبو خبردارى ورکړى او ويلي يې دي چې د کفارو برخليک په دوزخ کې ابدي هلاکت دى؟

الله تعالی فرمايلي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٩﴾

[البقرة: 39]

”او هغه کسان چې کافران شول او زموږ آياتونه يې دروغ وګڼل، هم دغه کسان د اور (دوزخ) څښتنان دی او هم دوی به په هغه (اور د دوزخ) کې همېشه وي. " [البقرة ٣٩].

## د هغو کسانو لپاره هېڅ عذر نشته چې حق پرېږدي او د پلرونو او نيکونو تقليد وکړي.

الله تعالی موږ ته خبر راکړی چې ډېری خلک چې په اسلام کې له داخلېدو څخه انکار کوي د هغه چاپيريال له وېرې يې کوي په کوم کې چې دوی ژوند کوي.

او ډېری نور له اسلام څخه ځکه انکار کوي چې دوی نه غواړي خپلې هغه عقيدې بدلې کړي چې له پلرونو څخه ورته په ميراث پاتې دي او يا يې له چاپيريال او ټولنې څخه ترلاسه کړي او ورسره عادت شوي دي، او ډېری نور تعصب او له باطل څخه ملاتړ منعه کوي چې اسلام ومني.

او دا ټول خلک د دې لپاره هېڅ عذر نلري، دوی به د الله جل جلاله په وړاندې پرته له توجيه (دليله) ودرېږي.

دا د ملحد لپاره هېڅ عذر نه دی چې ووايی، "زه به ملحد پاتې شم ځکه چې زه په يوه ملحده کورنۍ کې زېږېدلی يم!" بلکې هغه بايد له هغه عقل څخه کار واخلي چې الله تعالی ورکړی دی، د ځمکې او اسمانونو په عظمت کې بايد فکر وکړي او په خپل هغه عقل سره بايد فکر وکړي چې خالق يې ورکړی ترڅو پوه شي چې دا کائنات يو خالق لري.همدا رنګه هغه څوک چې د ډبرو او بتانو عبادت کوي د خپلو پلرونو د تقليد لپاره هېڅ عذر نه لري، بلکې بايد د حقيقت لټون وکړي او له ځانه وپوښتي چې: زه څنګه د يو داسې بې

روحه شي عبادت وکړم چې زما نه اوري، ما نه ويني او ما ته هېڅ ګټه نه رسوي؟!

په ورته ډول، عيسوی چې په هغو شيانو باور لري چې له فطرت او عقل سره مخالف دي؛ بايد له ځانه وپوښتي چې: رب څنګه خپل بې ګناه زوی د خلکو د ګناهونو له امله ووژني؟! دا ظلم دی! همدارنګه انسانان څنګه کولی شي د رب زوی په دار کړي او ويې وژني؟! آيا رب نشي کولی د بشر ګناهونه وبخښي پرته لدې چې دوی ته د خپل زوی د وژلو اجازه ورکړي؟ آيا رب د خپل زوی دفاع نشي کولی؟

نو د عاقل انسان وظيفه ده چې د حق پيروي وکړي او په باطل کې د پلرونو او نيکونو تقليد ونه کړي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ ١٠٤﴾ [المائدة: 104]

”او چې ورته وويل شي هغه (حکم) ته راشئ چې الله رانازل کړی او رسول ته راشئ وايي هغه (تګلاره) مو بس ده چې پر هغې مو خپل پلرونه موندلي، آيا که څه هم پلرونه يې نه په څه پوهېدل او نه يې سمه لار موندلې وه. “ [المائدة ١٠٤].

## هغه څوک بايد څه وکړي چې غواړي اسلام قبول کړي، خو وېره لري چې خپلوان به يې ورته زيان ورسوي؟

څوک چې غواړي اسلام قبول کړي او د خپل شاوخوا چاپېريال څخه وېره ولري، کولی شي اسلام قبول کړي او خپل اسلام پټ وساتي تر څو چې الله تعالی ورته يوه د خير لار اسانه کړي چې په هغې کې خپلواک شي او خپل اسلام ښکاره کړي.

په انسان سمدلاسه اسلام قبلول واجب دي، خو په هغه باندې لازم نه دي چې خپل شاوخوا خلکو ته د اسلام راوړلو خبر ورکړي او يا د مسلمانېدو اعلان وکړي، که دا کار ورته ضرر لري.

او پوه شه چې کله يو څوک اسلام قبول کړي نو د ميليونونو مسلمانانو ورور به شي، او کولی شي په خپل هېواد کې له جومات يا اسلامي مرکز سره اړيکه ونيسي او له هغوی څخه مشوره او مرسته وغواړي او هغوی به په دې کار سره خوشحاله کېږي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ ...﴾ [الطلاق: 2-3]

" او څوک چې له الله وېره کوي، (الله به) هغه ته د خلاصون لار پيدا کوي. او له يو داسې لورې به روزي ورکوي چې ګومان يې هم نه کوي. " [الطَّلَاقِ: 2، 3]

## ګرانه لوستونکيه!

ايا د خالق الله رضا کول -چا چې مونږ ته خپل ټول نعمتونه راکړي دي، چا چې مونږ ته په داسې حال کې خواړه راکول چې مونږ د خپلو ميندو په خېټو کې د جنين په بڼه وو، او هوا را رسوي چې مونږ يې اوس تنفس کوو- د خلکو له راضی کولو څخه ډېر مهم نه دي؟

ايا د دنيا او آخرت برياليتوب د ژوند د ټولو لذتونو د قربانولو ارزښت نه لري؟ ولې نه، قسم په الله!

لدې امله انسان بايد خپل تېر -ماضي- لدې څخه منع نه کړي چې خپله تګلاره سمه کړي او له غلطۍ لارې راوګرځي او سم کارونه وکړي.

انسان باید نن ورځ ریښتینی مؤمن شي! او شیطان ته باید اجازه ور نه کړي چې د حق له پیروي څخه یې منع کړي!

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَـٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا ١٧٤ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا

" اې خلکو یقیناً چې د خپل رب له لوري مو ښکاره دلیل (چې محمد دی) درغلی او تاسو ته مو څرګنده رڼا نازله کړې (چې قرآن دی). نو هر هغه چې په الله یې ایمان راوړی او منګولې یې پرې لګولي دي نو ژر به یې په خپل رحمت او پېرزوینه کې داخل کړي او خپل لوري ته نېغه لار به ور وښایي. " [النساء: 174-175].

## آیا ته چمتو یې چې د خپل ژوند ترټولو لویه پرېکړه وکړې؟

که دا هر څه منطقي وي او انسان په خپل زړه کې حقیقت پېژندلی وي؛ نو باید د مسلمانېدلو لپاره لومړی ګام پورته کړي.

او څوک چې په خپل ژوند کې د غوره تصمیم نیولو لپاره مرستې ته اړتیا لري او د مسلمانېدلو په اړه لارښود غواړي؟

نو ګناهونه یې باید په اسلام کې له داخلېدو څخه منع نه کړي، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي چې د انسان ټول ګناهونه بخښل کیږي که چېرې هغه اسلام قبول کړي او خپل خالق ته توبه وباسي، نو دا طبیعي ده چې انسان به د اسلام له منلو وروسته هم کېدی شي ګناهونه وکړي، ځکه موږ انسانان یو، سپېڅلې پرېښتې نه یو،خو موږ ته په کار دي چې له الله تعالی څخه بخښنه وغواړو او هغه ته توبه وباسو او که الله تعالی ووینې چې موږ د حق په منلو کې ګړندي یو او په اسلام کې داخل شو او د شهادت کلمې مو

وویلې، نو هغه به موږ سره د نورو ګناهونو په پرېښودلو کې مرسته وکړي، او څوک چې الله لوري ته روان شي او د حق پیروي وکړي، الله به هغه ته د نورو نیکیو توفیق ورکړي، نو انسان باید سمدلاسه په اسلام کې د داخلېدو په اړه زړه نازړه پاتې نه شي او سمدلاسه باید اقدام وکړي.

د دې خبرې ثبوت د الله تعالی دا قول دی چې فرمايي:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ ...﴾ [الأنفال: 38]

" کافر شوو ته وایه چې: که چېرې دوی منع شي، (له کفر څخه) (نو) دوی ته به د هغو (ګناهونو) بخښنه وشي چې مخکې شوي دي. " [الأنفال ۳۸].

## څه باید وکړم چې مسلمان شم؟

په اسلام کې داخلېدل اسانه خبره ده او کوم رسم، رسمي چارو او د چا حضور ته اړتیا نه لري، انسان باید یوازې د شهادت دوه کلمې ووايي، په معنا یې پوه شي او ایمان پرې ولري، هغه داسې چې ووايي: (أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله) یعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، که تاسو ته اسانه وي چې په عربي ژبه یې ووایې نو ښه ده او که درته سخته وي نو بسنه کوي چې په خپله ژبه یې ووایې او بیا به ته مسلمان شې، بیا نو تاته په کار دي چې دین دې زده کړې، کوم چې دې په دنیا کې د نیکبختۍ او اخرت کې د خلاصون سرچینه ده.

د اسلام په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره تا ته د دې ویب پاڼې د لیدلو سپارښتنه کوم: https://byenah.com/ps/discover-islam

https://quranenc.com/ps/home/redir/?iso_code=ps

او د دې لپاره چې زده کړې چې اسلام  څنګه عملي کړې، تاته سپارښتنه کوو چې دا وېب پاڼه وګورې:
https://byenah.com/ps/muslims

مواد


کائنات چا پیدا کړي؟ زه چا پيدا کړی يم؟ او ولې؟......................................1

ايا زه په سمه لار يم؟..........................................................3

رب لوی خالق دی..............................................................5

دا رب )پالونکی(، خالق )پیدا کوونکی(، روزي ورکوونکی، يوازې الله پاک دی..........................5

د پيدا کوونکي رب صفتونه.......................................................6

د عبادت څښتن د کمال له صفاتو څخه برخمن دی.....................................7

دې ستر خالق ولې موږ پيدا کړي يو؟ او زموږ څخه څه غواړي؟.............................10

ولې ډېر شمېر رسولان؟...........................................................13

يو څوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نه شي تر څو يې په ټولو پيغمبرانو ايمان نه وي راوړی. .........14

قرآن کريم څه شی دی؟..........................................................16

اسلام څه شی دی؟..............................................................16

اسلام د نېکمرغۍ لار ده..........................................................19

اسلام ته په داخلېدو څه ګټه کوم؟..................................................19

که اسلام را نه وړم نو څه به له لاسه ورکړم؟...........................................21

څوک چې غواړي په آخرت کې نجات ومومي بايد اسلام قبول کړي او د محمد صلی الله عليه وسلم پيروي وکړي..........................................................................22

زه د مسلمانېدلو لپاره څه ته اړتيا لرم؟.................................................24

په پرېکړه کې ځنډ مه کوه!........................................................25

د هغو کسانو لپاره هېڅ عذر نشته چې حق پرېږدي او د پلرونو او نيکونو تقليد وکړي.................27

هغه څوک بايد څه وکړي چې غواړي اسلام قبول کړي، خو وېره لري چې خپلوان به يې ورته زيان ورسوي؟ ..........................................................................28

ګرانه لوستونکيه! ...............................................................29

آيا ته چمتو يې چې د خپل ژوند ترټولو لويه پرېکړه وکړې؟..................................30

څه بايد وکړم چې مسلمان شم؟......................................................31

مواد..........................................................................33

# اسلام وپیژنئ

## له ۱۰۰ څخه په زیاتو ژبو

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

له (٦٠) څخه په زياتو ژبو د نبوي حديثونو او شرحو کره ژباړې.

بيان الإسلام
byenah.com

په ۱۲۰ ژبو کې د اسلام پیژندنې او زده کړې لپاره غوره شوي توکي.

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

له (۷٥) څخه په زیاتو ژبو د قرآن کریم د معناګانو کره ژباړې.

موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

د نورې په ژبو د لا زیاتو ویب پاڼو لپاره: (s.islamcontent.com)

موسوعة المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

له (۱۲٥) څخه په زیاتو ژبو ډول ډول او هر اړخيز اسلامي توکي.

مَا لَا يَسَعُ أَطْفَالَ الْمُسْلِمِينَ جَهْلُهُ
kids.islamenc.com

له (٤٠) څخه په زیاتو ژبو د کوچنیانو او عامه مسلمانانو لپاره سوالونه او ځوابونه.

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
Rabwah

ننشر

الإسلام

بأكثر من

100

لغة

Ps369